# رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته وفرمايل - حال دا چې - هغه رښتينی او امانتدار دی چې: «ستاسو څخه د يو تن پېدايښت داسې وي چې د خپلې مور په ګېډه کې څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې راټولېږي

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی: رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته وفرمايل - حال دا چې - هغه رښتينی او امانتدار دی چې: «ستاسو څخه د يو تن پېدايښت داسې وي چې د خپلې مور په ګېډه کې څلوېښت ورځې او څلوېښت شپې راټولېږي ، بيا د پنړ شوي سختې وينې په څېر شي، بيا د غوښې ديوې ټوټې په څېر - چې ژول شوي وي - وګرځي، بيا ورته ملايکه راولېږل شي او د څلورو خبرو حکم ورته وکړل شي، نو د هغه رزق، اجل، عمل، نېکمرغي او يا بد مرغي وليکي، بيا پکې ساه پوکړل شي، نو يو څوک به داسې وي چې د جنتيانو عملونه به کوي تر دې چې د هغه او جنت تر منځه يو ګز واټن پاتې شي، نو تقدير به پرې رامخکې شي او د دوزخيانو عمل به ترسره کړي او اور ته به داخل شي، او يو څوک به داسې وي چې د دوزخيانو عملونه به تر سره کوي، تر دې چې د هغه او د دوزخ تر منځه يو ګز واټن پاتې شي، نو تقدير به پرې رامخته شي او د جنتيانو عمل به وکړي نو جنت ته به داخل شي».

[صحيح] [متفق عليه دی]

خپلو خبروابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته دا خبره کړې ده او هغه په کې رښتينی دی؛ ځکه چې الله تعالی ريښتونی ګڼلی دی. هغه وفرمايل: ستاسو څخه د يو تن جوړښت راټوليږي، داسې چې کله يو سړی د خپلې مېرمنې سره يو ځای کيږي، نو د هغه شېندل شوي مني د ښځې په رحم کې د څلويښتو ورځو لپاره د نطفې په شکل کې راټوليږي. بيا علقه وګرځي چې هغه ټينګه او وچه وينه ده، او دا - کار - په دويمه څلويښت کې کيږي، بيا مضغه شي؛ چې هغه د غوښې دومره اندازه ټوټه ده چې ژولو ته برابره وي، او دا په دريمه څلويښت کې کيږي. بيا ورته الله تعالى ملايکه راوليږي، نو د دريمې څلويښت په پای کې پکې روح پوکړي، ملايکې ته امر وشي چې څلور خبرې وليکي: د هغه رزق؛ چې له هغه اندازې نعمتونو څخه عبارت دی چې په خپل عمر کې به يې لاسته راوړي، د هغه اجل؛ او دا په دنيا کې د هغه د پاتې کېدا موده ده، د هغه عمل، چې څه دی؟ او دا چې آيا نيکمرغه دی که بد مرغه. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم قسم ياد کړ چې يو سړی به د جنتيانو عمل کوي او عملونه به يې نيک وي، يعنې هغه څه چې خلکو ته ښکاري؛ تر هغه وخته پورې به همداسې وي، تر دې چې د ده او جنت تر منځه يوازې د يو ګز په اندازه فاصله پاتې شي، يعنې د ده او جنت ته د رسېدو په منځ کې به دومره فاصله پاتې شي لکه د يو ګز په اندازه، نو تقدير او هغه څه به پرې غالب شي چې ورته ليکل شوي دي نو د دوزخيانو عمل به وکړي، نو په همدې سره به يې خاتمه وشي او اور ته به داخل شي. ځکه چې د عمل د منلو شرط دا دی چې په هغه باندې ثابت قدمه پاتې شي او بدلون ورنکړي. او د خلکو څخه يو بل تن به د دوزخيانو عمل تر هغه وخته پورې کوي چې هغه دوزخ ته ننوتلو ته نږدې شي او داسې به وي لکه د ده او د اور تر منځ چې د ځمکې د يو ګز په اندازه واټن پاتې شي، نو تقدير به پرې غالب شي او هغه څه چې ورته ليکل شوي دي نو د جنتيانو عمل به وکړي او جنت ته به داخل شي.